EUAA EUROPEAN UNION AGENCY FOR ASYLUM

ibz Federal Public Service Home Affairs

cgvs ra Office of the Commissioner General for Refugees and Stateless Persons

fedasil FEDERAL AGENCY FOR THE RECEPTION OF ASYLUM SEEKERS

بلجيم

هغه څه چې تاسو بايد د اروپايي ټولنې د پناه غوښتنې سرحدي کړنلارې په اړه پوه شئ

Pashto

پښتو

Practical guide on the Asylum Border Procedure in Belgium

June 2026

تاسو اوس په بلجیم -+ EU کې یاست، چې د اروپايي اتحادیې غړی هېواد دی.
د اروپايي اتحادیې -+ EU غړي هېوادونه دا دي:

د اروپايي اتحادیې ۲۷EU غړي هېوادونه دا دي: بلجیم، بلغاریا، قبرس، ډنمارک، جرمني، استونیا، فنلنډ، فرانسه، یونان، هنګري، ایرلنډ، ایټالیا، کروشیا، لاتویا، لیتوانیا، لوکزامبورګ، مالټا، هالېنډ، اتریش، پولنډ، پرتګال، رومانیا، سلواکیا، سلوانیا، هسپانیا، چک جمهوریت او سویډن، او

۴ نور هېوادونه: ایسلنډ، لیختنشتاین، ناروې او سویس.

منځپانګه

نړیواله ساتنه (پناه) څه ده؟	3
د پناه غوښتنې پروسه څه ده؟	۴
د پناه غوښتنې د پولې پروسه څه ده؟	۶
دا پروسه څومره وخت نیسي؟	۷
ستاسو د غوښتنلیک ثبت او سپارل کله او چیرته ترسره کیږي؟	۸
ستاسو د غوښتنلیک د ثبت او سپارلو په جریان کې څه پیښیږي؟	۱۱
که تاسو د ماشومانو یا یو متکي بالغ سره راغلی یاست نو پروسه څه ده؟	۱۴
کوم هیواد ستاسو غوښتنلیک پر مخ بیایي ؟	۱۵
ستاسو غوښتنلیک څنګه ارزول کیږي؟	۱۶
تاسو د نړیوال خوندیتوب لپاره ستاسو د غوښتنلیک په اړه پریکړه څنګه ترلاسه کوئ؟	۲۰
ستاسو حقونه څه دي؟	۲۴
ستاسو مکلفیتونه څه دي؟	۲۷
که تاسو خپل مکلفیتونه پوره نه کړئ نو څه پیښیږي؟	۳۱
چارواکي د کوم ځانګړي اړتیاو سره څنګه چلند کوي؟	۳۳
که تاسو غواړئ خپل هېواد ته بېرته ولاړ شئ، څه به وشي؟	34

نړيواله ساتنه څه ده؟

که تاسو نشئ کولی خپل هېواد ته بېرته ولاړ شئ، ځکه چې له ځوروڼي وېره لرئ يا د جدي زيان له واقعي خطر سره مخ ياست، نو امکان لري چې تاسو نړيوالې ساتنې ته اړتيا ولرئ. دا په دې معنا ده چې ستاسو ژوند يا ازادي په خطر کې وي او د ستاسو د هېواد دولتي اداري ونه شي کولی تاسو د هغه خطر څخه وساتي چې ورسره مخ ياست.

تاسو حق لرئ چې د نړيوالې ساتنې لپاره غوښتنه وکړئ.

په اروپا کې نړيواله ساتنه ښلاښلې بڼې لري: د **کډوال (پناه غوښتونکي)** حيثيت **يا فرعي (ضمني)** ساتنه.

نړيواله ساتنه ته پناه هم ويل کېږي.

د پناه غوښتنې پروسه څه ده؟

د پناه غوښتنې د پروسې پر مهال اړونده اداري دا ارزوي چې ایا تاسو نړیوالې ساتنې ته اړتیا لرئ که هو، نو کوم ډول ساتنه ستاسو لپاره مناسبه ده. د دې پروسې په جریان کې تاسو ته دا فرصت درکول کېږي چې ووایاست ولې مو خپل کور او خپل اصلي هېواد پرېښی دی. کارکوونکو ته ټول هغه علتونه په ریښتیا ووایاست چې له امله یې تاسو خپل هېواد پرېښی دی.

کله چې تاسو د نړیوالې ساتنې غوښتنه وکړئ، نو تاسو د نړیوالې ساتنې غوښتونکی بلل کېږئ.

ټول هغه معلومات چې تاسو یې له اړوندو ادارو سره شریکوئ، محرم ساتل کېږي. دا معلومات هېڅکله هغو کسانو ته نه سپارل کېږي چې تاسو تړې د ساتنې غوښتنه کوئ.

د پناه غوښتنې پروسه لاندې مرحلې لري.

د پناه غوښتنې د پولې (سرحدي) پروسه څه ده؟

د پناه غوښتنې د پولې (سرحدي) پروسه دا معنا لري چې د ستاسو د غوښتنې د څېړلو پر مهال:

- تاسو باید په یوه ټاکل شوې ځای کې پاتې شئ، او
- د بلجیم خاورې ته د اجازې پرته داخل نه شئ.

که تاسو له خپلې کورنۍ سره یوځای راغلي یاست، نو تاسو کولی شئ له خپلو د کورنۍ غړو (میړه/ښځه، ملګری/ملګرې، کم عمره اولادونه او هغه بالغان اولادونه چې تر ستاسو پورې تړلي وي) سره یوځای ځای پر ځای شئ.

د پناه غوښتنې د پولې (سرحدي) پروسه په لاندې حالاتو کې پلي کېدای شي:

- تاسو په غیر قانوني ډول راغلي یاست او د سرحد د تېرېدو په یوه پوسټې کې یا د ترانزیټ په زون کې مو د نړیوالې ساتنې غوښتنه کړې ده.

- تاسو په غیر قانوني ډول له پولې څخه تېر شوي یاست.

- تاسو په سمندر کې ژغورل شوي یاست.

- تاسو له بل EU+- اروپایي هېواد څخه دلته لېږدول شوي یاست.

د پناه غوښتنې د پولې (سرحدي) پروسه د ښلاښلو دلایلو له امله تطبیقېږي، د ښلګې په توګه که:

- تاسو په قصدي ډول ناسم معلومات یا جعلي اسناد وړاندې کړي وي، یا مو د خپلې هویت یا تابعیت اړوند مهم معلومات یا اسناد پټ کړي وي، یا
- مو د هویت یا سفر سندونه له منځه وړي وي؛ یاتاسو د امنیت لپاره خطر وګڼل شئ؛ یا
- ستاسو د هېواد هغه کسان چې د نړیوالې ساتنې غوښتنه کوي، عموماً د ځوروني یا جدي زیان له خطر سره مخ نه وي.

تاسو کولی شئ له اړوندو ادارو څخه وپوښتئ چې ولې ستاسو په قضیه کې د پناه غوښتنې د پولې (سرحدي) پروسه تطبیق شوې ده.

د پروسې موده څومره ده؟

د پناه غوښتنې د پولې (سرحدي) پروسه تر ټولو ډېر ۱۲ اوونۍ دوام کوي، چې له هغې وروسته حسابېږي کله چې ستاسو غوښتنه ثبت شي. که تاسو بل اروپای EU+- هېواد ته ولاړدول شئ، نو دا پروسه تر ۱۶ اوونیو پورې وخت نیولی شي.

که تاسو د دې مودې په ترڅ کې پرېکړه ترلاسه نه کړئ، نو تاسو ته به اجازه درکړل شي چې د هغه هېواد خاورې ته داخل شئ چې ستاسو غوښتنه پکې څېړل کېږي.

په استثنايي حالتونو کې کېدای شي تاسو ته لا هم د هېواد خاورې ته د داخلېدو اجازه ورنه کړل شي او تاسو ته د ازاد تګ راتګ اجازه هم ورنه کړل شي، حتی که په ۱۲ یا ۱۶ اوونیو کې پرېکړه نه وي شوې. که دا استثنايي حالت پر تاسو تطبیقېږي، نو اړوندې اداري به تاسو ته معلومات درکړي او نور وضاحت به درکړي.

9 1 2 5 2 8 5 5 8 5.

کله چې تاسو له اړوندو ادارو څخه د نړیوالې ساتنې غوښتنه وکړئ، نو په اصل کې ستاسو غوښتنه په همدې ورځ او په همدې ځای کې ثبت او سپارل کېږي. دا غوښتنه د بهرنیانو د چارو اداري (Dienst Vreemdelingenzaken) کې ثبت او سپارل کېږي.

دا ډېر مهم دی چې تاسو د خپلې غوښتنې سپارلو پروسه په بشپړ ډول پای ته ورسوئ. که تاسو دا سپارل بشپړ نه کړئ، نو ستاسو غوښتنه به د ډېرته اخیستل شوې (رد شوې) په توګه وبلل شي، پرته له دې چې د نه بشپړولو لامل ستاسو له واکه بهر وي.دا په دې معنا ده چې تاسو د غوښتونکي (پناه غوښتونکي) حیثیت، د ملاتړ او خدماتو حق، او همدارنګه په دې هېواد کې د پاتې کېدو حق له لاسه ورکوئ

بله غوښتنه څه ده؟

کله چې تاسو په کوم EU+- بل اروپايي هېواد کې مخکې له مخکې يو يا څو ځله د نړيوالې ساتنې غوښتنه (چې ورته پناه هم ويل کېږي) کړې وي، نو ستاسو نوې غوښتنه ته "وروسته/تعقيبي غوښتنه" ويل کېږي.

حتی که ستاسو پخوانۍ غوښتنه په بل EU+- اروپايي هېواد کې ورکړل شوې وي، بيا هم ستاسو نوې غوښتنه "وروستۍ (تعقيبي) غوښتنه" بلل کېږي.

دوهم (وروستی) غوښتنليک د هغه پخوانۍ پرېکړې پر ضد اعتراض (استيناف) نه دی چې تاسو ترلاسه کړې ده. تاسو يوازې هغه وخت کولی شئ يو بل غوښتنليک ورکړئ کله چې د ستاسو د پخواني غوښتنليک پروسه بشپړه شوې وي. دا په دې معنا ده چې:

- تاسو بايد د خپل پخواني غوښتنليک په اړه پرېکړه ترلاسه کړې وي،
- هېڅ استيناف (اعتراض) روان نه وي،
- اود استيناف د وړاندې کولو موده تېره شوې وي.

دا چې تاسو د پخوانۍ پرېکړې سره موافق نه ياست، دا د دې لپاره دليل نه دی چې بيا د نړيوالې ساتنې غوښتنه وکړئ.

که تاسو يو وروستی (تعقيبي) غوښتنليک ورکړئ، نو تاسو بايد **نوي عناصر لکه (ثبوتونه يا اسناد)** وړاندې کړئ چې ستاسو د دی ادعا ملاتړ کوي چې تاسی نړيوالې ساتنې ته اړتيا لرئ.

نوي عناصر هغه څه دي چې ستاسو د نړيوالې ساتنې غوښتنه پياوړې کوي، او هغه عناصر دي چې تاسو يې د خپلې پخوانۍ غوښتنې/غوښتنليکونو پر مهال نه شوای وړاندې کولی.

نوي عناصر کېدای شي نوي اسناد يا د ثبوت مواد وي چې تاسو ترلاسه کړي وي، يا داسې پېښې وي چې ستاسو د پخواني غوښتنليک د پرېکړې له نېټې وروسته رامنځته شوي وي، د بېلګې په توګه:

- هغه نوې پېښې چې ستاسو په اصلي هېواد کې رامنځته شوې وي.
- ستاسو په شخصي وضعيت کې بدلونونه.

د استثنا په توګه، نوي عناصر کېدای شي هغه عناصر هم وي چې ستاسو د پخواني غوښتنليک پر مهال لا موجود وو، که چېرې له لاندې دليلونو څخه يو يې د پلي کيدو قابل وی

- تاسو د خپل پخواني غوښتنليک پر مهال په هېڅ صورت نه شوای کولای له دغو نوو عناصرو څخه خبر اوسئ.
- تاسو د موجه دليلونو له مخې نه شوای کولای د دغو نوو عناصرو په اړه خبرې وکړئ. په دې حالت کې، تاسو بايد دغه دليلونه تشريح کړئ.

هغه معلومات چې تاسو په خپل پخواني غوښتنليک کې وړاندې کړي دي، هم به په پام کې ونيول شي. خو ستاسو پخوانۍ غوښتنليک به بيا له سره ونه څېړل شي.

ستاسو د غوښتنې د ثبت او سپارلو پر مهال څه پېښېږي؟

ستاسو د ګوتو نښې به واخیستل شي

ستاسو عکس اخیستل کېږي.

له تاسو څخه غوښتنه کېږي چې خپل ټول هویتي، د سفر او هر ډول نور اړوند اسناد وښایئ.

له تاسو څخه غوښتنه کېږي چې خپل شخصي معلومات ورڅاندې کړئ. همدارنګه له تاسو څخه پوښتنه کېږي چې ایا ستاسو د کورنۍ کوم غړي په دې هېواد یا په بل اروپایي ټولنې +EU هېواد کې مېشت دي. همدارنګه به اضافي معلومات هم راټول شي.

ستاسو بدني تالاشي کېدای شي وشي او ستاسو توکي او شتمنۍ کېدای شي وپلټل شي. ستاسو شخصي وسایل ستاسو ملکیت پاتې کېږي او بېرته به تاسو ته درکړل شي، پرته له هغو وسایلو چې خطرناک ګڼل کېږي.

کېدای شي ستاسو څخه طبي معاینه ترسره شی.

له تاسو څخه غوښتنه کېږي چې د خپلې غوښتنې د ملاتړ لپاره ټول موجود معلومات او اسناد وړاندې کړئ. په دې کې هغه معلومات او اسناد شامل دي چې د لاندې مواردو سره تړاو لري:

- ستاسو د اصلي هېواد او هر هغه هېواد په اړه چې تاسو پکې ژوند کړی دی
- هغه دلیلونه چې ولې تاسو خپل هېواد پرېښود او ولې نه غواړئ بېرته ور وګرځئ
- ستاسو شالید او د کورنۍ شالید
- اروپا ته او د هغې له لارې ستاسو د سفر معلومات
- د نړیوالې ساتنې (محافظت) لپاره ستاسو هر ډول پخوانۍ

د غوښتنلیو ترتیب کېدای شي توپیر ولري، خو له ټولو غوښتونکو سره په یو شان ډول چلند کېږي. په بلجیم کې، د خپلې غوښتنې له سپارلو وروسته به تاسو د DVZ (د بهرنیانو د چارو اداره) له خوا اوریدنه (مرکه) درسره وشي، څو اړین معلومات او جزئیات راټول شي. راټول شوي معلومات په خوندي ډول په ملي او اروپایي ډیټابېسونو کې ساتل کېږي.

دا ستاسو مکلفیت دی او ستاسو په ګټه هم ده چې رښتیا ووایئ او له اړوندو ادارو سره همکاري وکړئ.

د غوښتنې د سپارلو پر مهال به له تاسو څخه وغوښتل شي چې یو پوښتنلیک ډک کړئ او تاسو باید:

- د خپلې غوښتنې د ملاتړ لپاره ټول موجوده معلومات او اسناد وړاندې کړئ. په دې کې هغه نوي عناصر هم شامل دي چې پر بنسټ یې تاسو بیاځلې غوښتنه کړې ده. نوي عناصر کېدای شي نوي حقایق یا د ثبوت اسناد وي چې ښیي تاسو نړیوالې ساتنې ته اړتیا لرئ؛
- د نړیوالې ساتنې په اړه ستاسو د پخوانیو غوښتنو په اړه پوښتنو ته ځوابونه ورکړئ.

کله چې تاسو خپله غوښتنه وسپارئ، تاسو به یو رسمي سند ترلاسه کړئ چې پکې لیکل شوي وي چې تاسو د نړیوالې ساتنې غوښتنه کوونکی کس یاست.

تاسو باید دا سند تل له ځان سره ولرئ.

که تاسو له ماشومانو یا د خپل سرپرستۍ لاندې بالغ کس سره راغلي یاست، نو پروسه څنګه ده؟

که تاسو له لاندې کسانو سره راغلي یاست:

- ستاسو هغه ماشومان چې عمر یې له ۱۸ کلونو کم وي، یا
- هغه ماشومان چې عمر یې له ۱۸ کلونو کم وي او تاسو د هغوی لپاره قانوني مسؤلیت لرئ،

دوی هم باید د نړیوالې ساتنې غوښتنه وکړي.

که ستاسو ماشومان ۱۸ کلن یا له دې زیات عمر ولري، هغوی باید خپله غوښتنه پخپله وسپاري.

که تاسو د ۱۸ کلن یا له هغه زیات عمر لرونکي کس لپاره مسؤل یاست چې د معلولیت له امله خپله پرېکړه نشي کولای، تاسو کولای شئ د هغه/هغې په استازیتوب د نړیوالې ساتنې غوښتنه وکړئ او غوښتنلیک وسپارئ.

هغه کس باید د خپلې غوښتنې د ثبت او سپارلو پر مهال له تاسو سره حاضر وي.

کوم هېواد ستاسو غوښتنه څېړي؟

دا ثابته ده چې د اروپايي ټولنې EU+- يو هېواد به ستاسو د نړيوالې ساتنې غوښتنه وڅېړي. تاسو نشئ کولای هغه هېواد پخپله وټاکئ.

اړوندې ادارې يوه کړنلاره تعقيبوي ترڅو وټاکي چې د اروپايي ټولنې EU+- کوم هېواد ستاسو د نړيوالې ساتنې غوښتنې لپاره مسؤل دی. دې ته د مسؤل هېواد د ټاکلو کړنلاره ويل کېږي.

له همدې امله تاسو بايد اړوندو ادارو ته لاندې معلومات ورکړئ:

- آيا تاسو په بل اروپايي ټولنې EU+-هېواد کې د کورنۍ غړی لرئ؛
- آيا مخکې کوم بل EU+- هېواد تاسو ته ويزه يا د اقامت سند درکړی دی (ويزه تاسو ته اجازه درکوي چې يو هېواد ته سفر وکړئ، مثلاً ستاسو په پاسپورټ کې د مهر په بڼه؛ او د اقامت سند هغه سند دی چې تاسو ته اجازه درکوي په هغه هېواد کې پاتې شئ)؛
- آيا تاسو مخکې کوم بل EU+- هېواد ته داخل شوي ياست؛
- آيا تاسو مخکې په کوم بل EU+- هېواد کې د نړيوالې ساتنې غوښتنه کړې ده؛
- آيا کوم بل EU+- هېواد تاسو ته د زده کړو ډيپلوم يا تحصيلي سند درکړی دی.

که اړوندې ادارې دې نظر ته ورسېږي چې ښايي د اروپايي ټولنې EU+- بل هېواد ستاسو د غوښتنې د څېړلو مسؤليت ولري، نو تاسو ته به د دې پروسې او ستاسو د حقونو او مکلفيتونو په اړه تفصيلي معلومات درکړل شي.

د دې په اړه نور معلومات په يوه جلا بروشر کې موندل کېږي

ستاسو غوښتنه څنګه ارزول کېږي؟

د ستاسو د غوښتنې څېړنه

که بلجیم ستاسو د نړیوالې ساتنې د غوښتنې د څېړلو مسؤل وګڼل شي، نو ستاسو دوسیه به د کډوالو او بې تابعیتو کسانو د عمومي کمېساریت CGVS ته وسپارل شي. CGVS کولای شي تاسو د شخصي مرکې لپاره وبولي. که تاسو په یو استوګنیز مرکز کې اوسېږئ، CGVS به بلنه د مرکز د رئیس ایمیل ته واستوي.

که تاسو په ټرلي مرکز یا د استوګنې په واحد کې یاست، د CGVS یو کارکوونکی به هلته له تاسو سره مرکه وکړي. **شخصي مرکه** کېدای شي د ویډیو کنفرانس له لارې هم ترسره شي.

که تاسو وکیل لرئ، هغه باید CGVS ته خبر ورکړي چې ستاسو د پناه غوښتنې په پروسه کې ستاسو استازیتوب کوي. په دې صورت کې، هغه به د ټولو هغو لیکونو یوه کاپي ترلاسه کړي چې CGVS تاسو ته استوي، لکه د شخصي مرکې بلنلیک.

ستاسو غوښتنه څنګه ارزول کېږي؟

د ستاسو د غوښتنې څېړنه

که تاسو بالغ یاست، تاسو به جلا توګه اوربدل کېږئ. ستاسو د کورنۍ هېڅ غړی به ستاسو د شخصي مرکې پر مهال حاضر نه وي. د دې مرکې په جریان کې تاسو کولی شئ ټول هغه دلایل بیان کړئ چې له امله یې تاسو خپل هېواد ته له ستنېدو وېره لرئ.
ژباړن د CGVS د محافظتي افسر (هغه کارکوونکی چې مرکه ترسره کوي) پوښتنې او همدارنګه ستاسو څرګندوني ژباړي. ستاسو وکیل یا د باور وړ شخص هم کولای شي په مرکه کې ګډون وکړي.
محافظتي افسر هڅه کوي د باور فضا رامنځته کړي څو تاسو وکولای شئ په ازاده توګه د خپلو ټولو تجربو او وېرو په اړه خبرې وکړئ. ژباړن خپلواک دی او له CGVS سره تړاو نه لري. دا په دې معنا ده چې هغه بېطرفه دی او پر پرېکړه هېڅ اغېز نه لري.

هغه څه چې تاسو سره پېښ شوي دي یا چې له څه شي وېره لرئ، په طبیعي ډول بیان کړئ، خو کومه کیسه مه حفظ کوئ. د هغو کسانو مشوري مه منئ چې ستاسو په شاوخوا کې دي او هڅه کوي تاسو ته ووایي چې هغه څه ووایئ چې تاسو نه دي تجربه کړي.
که د مرکې پر مهال تاسو ډاډه نه یاست چې کومه پوښتنه مو سمه درک کړې ده، سمدستي یې ووایئ. محافظتي افسر به پوښتنه بیا په بل ډول درته بیان کړي.
همدارنګه که د یوې پوښتنې ځواب مو نه وي معلوم، نو غوره ده چې ووایئ «زه نه پوهېږم»، نه دا چې دروغ ووایئ یا له ځانه څه جوړ کړئ.

د شخصي مرکې څخه مخکې خپل اسناد وسپارئ

مهرباني وکړئ ټول هغه اسناد وړاندې کړئ چې ستاسو د هویت، اصلي هېواد، د سفر مسیر او د پناه غوښتنې د دلایلو په اړه ستاسو څرګندوني تاییدوي. که امکان ولري، اصلي (اصلي نسخه) اسناد وسپارئ. د اسنادو او/یا مهمو معلوماتو پټول یا نه سپارل کولی شي ستاسو د نړیوالې ساتنې د غوښتنې په ارزونه منفي اغېز ولري.

که تاسو تر اوسه پورې دا اسناد د DVZ (د بهرنیو اتباعو اداري) په مرکه کې نه وي سپارلي، نو مهرباني وکړئ د امکان په صورت کې یې د CGVS (د کډوالو او بېتابعته کسانو د عمومي کمېشنرئ) د شخصي مرکې اوربدنې مخکې وړاندې کړئ

دا مرکه تر څلورو ساعتونو پورې دوام کولی شي، او که اړتیا وي، بله اضافي مرکه به هم ترسره شي. د مرکې پر مهال یو یا څو دمي په پام کې نیول شوي دي. مهرباني وکړئ ډاډ ترلاسه کړئ چې که اړتیا وي، له ځان سره خواړه او څښاک راوړئ، او که تاسو داسې درمل کاروئ چې باید په ټاکلو وختونو کې واخیستل شي، نو هغه هم له ځان سره راوړئ.

ستاسو غوښتنليک څنګه ارزول کېږي؟

ستاسو د غوښتنليک څېړنه

د ساتنې مسؤل Protection Officer د شخصي مرکې پر مهال د ټولو ویل شویو خبرو لیکلې بڼه برابروي. هغه د مرکې پر مهال خپلې ټولې پوښتنې او ستاسو څرګندونې ثبت کړي دي. ستاسو د څرګندونو دې لیکلې بڼې ته د شخصي مرکې یادښتونه ویل کېږي.

ټوله مرکه د غږیز ثبت له لارې ثبتېږي (ویډیویي انځورونه نه ثبتېږي). که چېرې تاسو د منفي پرېکړې پر وړاندې استیناف (اعتراض) وکړئ، نو کولای شئ دې غږیز ثبت ته لاسرسی وموميئ. دا کار د ملاقات (وخت ټاکلو) له لارې ممکن دی، هم د استیناف تر ثبتولو مخکې په (CGVS) کې، او هم د استیناف تر ثبتولو وروسته د بهرنیانو د شخړو شورا (RvV) کې. دغه ثبت همدارنګه د استیناف په بهیر کې د ثبوت په توګه د (RvV) ته وړاندې کېدای شي.

د شخصي مرکې وروسته، د ساتنې مسؤل ستاسو د نړیوالې ساتنې غوښتنلیک په بشپړ ډول په بې طرفه توګه ارزوي. هغه ستاسو د څرګندونو د باور وړتیا ارزوي او ګوري چې آیا ستاسو غوښتنلیک د کډوالو د کنوانسیون له معیارونو سره سمون لري او که نه، او یا دا چې تاسو د فرعي ساتنې د حالت (subsidiaire beschermingsstatus) لپاره وړ یاست

اداري کولی شي له تاسو وغواړي چې يو طبي معاینه ترسره کړئ، تر څو د هغو احتمالي نښو نښانو څېړنه وشي چې ښايي تاسو په تېروخت کې د تعقیب یا جدي زیان قرباني شوي یاست. دا معاینه وړیا ده او له تاسو څخه به د دې لپاره د رضایت غوښتنه وشي.

تاسو به د دې معاینې له پایلو څخه خبر کړای شئ، او دا پایلې به ستاسو د غوښتنلیک د ارزونې پر مهال په پام کې ونیول شي. که اداري له تاسو څخه د معاینې غوښتنه ونه کړي، نو تاسو کولی شئ په خپل لګښت خپله د معاینې غوښتنه وکړئ.

تاسو د خپل نړیوالې ساتنې د غوښتنلیک په اړه پرېکړه څنګه ترلاسه کوئ؟

CGVS تاسو ته د نړیوالې ساتنې د غوښتنلیک په اړه پرېکړه د ثبت شوي لیک (راجستر شوې پوستې) له لارې درلېږي. CGVS دا پرېکړه هغه پته ته استوي چې تاسو د خپل استوګنځي په توګه ورکړې ده.

که تاسو په یو د استوګنې مرکز کې اوسېږئ، نو پرېکړه به د هماغه مرکز پته ته ولېږل شي. د هغه مرکز د کړنلارې له مخې چې تاسو پکې اوسېږئ، یا به تاسو پرېکړه د مرکز د یو کارکوونکي له لارې ترلاسه کړئ، او یا به اړ شئ چې خپله پوستې دفتر ته ولاړ شئ تر څو هغه لیک چې پرېکړه پکې ده، هلته ترلاسه کړئ.

که ستاسو پرېکړه مثبته وي

مثبته پرېکړه دا معنی لري چې تاسو ته د کډوالۍ حیثیت یا د فرعي ساتنې حیثیت درکول کېږي. مثبته پرېکړه د کار کولو امکان، د کورنۍ د یوځای کېدو غوښتنه، د مادي مرستې ترلاسه کول، او په بلجیم کې ستاسو د استوګنې تنظیمولو باندې اغېز لري.

د کډوالۍ حیثیت ورکول

تاسو له CGVS څخه د کډوالۍ حیثیت د ورکړې پرېکړه ترلاسه کړې ده. شاوخوا یوه میاشت وروسته به تاسو د کډوالۍ تصدیق (سند) ترلاسه کړئ. د دې سند په لرلو سره به تاسو هغه ښارواليۍ ته ولاړ شئ چېرته چې اوسېږئ، او هلته به د بهرنیانو په راجستر کې ځان ثبت کړئ.

که ستاسو ځینې نږدې د کورنۍ غړي وغواړي چې له تاسو سره یوځای شي، هغوی کولی شي د کورنۍ د یوځای کېدو له امکان څخه ګټه واخلي. د کورنۍ د یوځای کېدو غوښتنلیک د DVZ له خوا ارزول کېږي. دا غوره ده چې تاسو دا غوښتنلیک د کډوالۍ د حیثیت له ترلاسه کولو وروسته د شپږو میاشتو په موده کې پیل کړئ.

وروسته له دې چې تاسو د کډوالۍ حیثیت ترلاسه کړئ، نور به ونه شئ کولی چې د مدني احوالو ځینې اسناد، لکه د زیږون سند، د خپل سفارت له لارې ترلاسه کړئ. د دې لپاره تاسو کولی شئ د CGVS د پېژندل شوو کډوالو او بې تابعیته کسانو د مرستې دفتر (Helpdesk) څخه مرسته وغواړئ

د نورو معلوماتو لپاره، د «تاسو د کډوال په توګه پېژندل شوي یاست» تر سرلیک لاندې بروشور په دې وېبپاڼه کې وګورئ:

www.cgrs.be/en/publications.

د فرعي ساتنې د حیثیت ورکول

که تاسو د کډوالۍ د حیثیت د ترلاسه کولو شرایط پوره نه کړئ، CGVS کولی شي تاسو ته د فرعي ساتنې حیثیت درکړي. په دې حالت کې به تاسو ته یوه پرېکړه درولېږل شي چې پکې به لومړی د کډوالۍ د حیثیت د ردولو دلایل تشریح شوي وي. سربېره پر دې، په پرېکړه کې به دا هم ذکر وي چې تاسو ته د فرعي ساتنې حیثیت درکول شوی دی.

که ستاسو ځینې نږدې د کورنۍ غړي وغواړي چې له تاسو سره یوځای شي، هغوی کولی شي د کورنۍ د یوځای کېدو له امکان څخه ګټه واخلي. د کورنۍ د یوځای کېدو غوښتنلیک د DVZ له خوا ارزول کېږي. دا غوره ده چې تاسو دا غوښتنلیک د کډوالۍ د حیثیت له ترلاسه کولو وروسته د شپږو میاشتو په موده کې پیل کړئ.

ستاسو د فرعي ساتنې د حالت په اړه نور معلومات تاسو کولای شئ په دې نشریه کې وموميئ: «تاسو په بلجیم کې د فرعي ساتنې څخه برخمن یاست» په دې وېبپاڼه کې:

www.cgrs.be/en/publications.

د استوګنې اسنادو، د استوګنې حق، سفر او کار په اړه نور معلومات تاسو د ادغام او مدني ګډون اداري (Agentschap Integratie en Inburgering) په وېبپاڼه کې موندلی شئ: (www.agii.be):
www.vreemdelingenrecht.be

د استینناف (اعتراض) کولو امکان

کله چې تاسو منفي پرېکړه ترلاسه کړئ، دا معنی لري چې CGVS د یوې ژورې څېړنې پر بنسټ دې پایلې ته رسېدلی چې تاسو ساتنې ته اړتیا نه لرئ. که تاسو له دې منفي پرېکړې سره موافق نه یاست، نو په اصولو کې تاسو ۱۰ ورځې وخت لرئ چې د دې پرېکړې پر وړاندې استیناف (اعتراض) د بهرنیانو د شخړو شورا (RvV) ته وړاندې کړئ.

RvV ته د استیناف لپاره څخه مخکې، تاسو باید یو غوښتنلیک (درخواست) وړاندې کړئ چې پکې دا څرګندوئ چې ولې د CGVS له پرېکړې سره موافق نه یاست. د دې لپاره ټاکلې وختونه او ځانګړي شکلي شرایط موجود دي. له همدې امله مهمه ده چې غوښتنلیک په سمه توګه چمتو شي. نو ځکه سپارښتنه کېږي چې د دې کار لپاره له یو وکیل څخه مرسته واخلئ.

وروسته به تاسو، له خپل وکیل سره یوځای، د RvV یوې غونډې (جلسې) ته راوبلل شئ. تاسو یا ستاسو وکیل باید حتماً په دې غونډه کې حاضر اوسئ. د غونډې پر مهال، تاسو یا ستاسو وکیل کولی شئ خپل دلایل په شفاهي ډول وړاندې کړئ.

د عادي رد پرېکړې لپاره د استیناف موده ۳۰ ورځې ده، خو په ځینو حالتونو کې دا موده لنډېږي، لکه په چټکه پروسه یا د سرحدي پروسې په حالت کې. په ځینو مواردو کې استیناف په اتومات ډول د پرېکړې د تطبیق مخه نه نیسي، چې دا معنی لري تاسو ممکن د استیناف په جریان کې هم ببرته ستانه یا له هېواد څخه وایستل شئ. په دې حالت کې تاسو کولی شئ د پاتې کېدو اجازه وغواړئ.تاسو دا معلومات په خپله پرېکړه کې موندلی شئ. نو ځکه خپله پرېکړه د خپل ټولنیز کارکوونکي او/یا وکیل په مرسته په دقت سره ولولئ. له هغوی سره دا هم وڅېړئ چې ستاسو په قضیه کې کومه د استیناف موده تطبیقېږي.

ستاسو حقونه کوم دي؟

تاسو حق لرئ چې د نړیوالې ساتنې د غوښتنلیک د پرېکړې تر اعلان پورې د استوګنې ملاتړ او خدمات ترلاسه کړئ

د غوښتونکي په توګه، تاسو په اصل کې دا حق لرئ چې:

- په هغه هېواد کې پاتې شئ چې ستاسو د غوښتنلیک د ارزونې مسؤلیت لري، یا د سرحد په ټاکلي ځای کې پاتې شئ تر څو د غوښتنلیک ارزونه بشپړه شي، او
- د استوګنې ملاتړ او خدمات ترلاسه کړئ.

د هغو ملاتړونو او خدماتو په اړه چې تاسو یې ترلاسه کوئ، معلومات په یوې جلا بروشور کې موندلی شئ.

تاسو د ژباړن د خدمتونو حق لرئ

که تاسو په هالنډي یا فرانسوي ژبه خبرې نه کوئ، یو ژباړن به تاسو سره مرسته وکړي چې د DVZ سره د مرکې پر مهال او ستاسو د شخصي مرکې پر وخت له ادارو سره اړیکه ونیسئ. ژباړن وړیا دی.

ژباړن بې طرفه وي، دا په دی معنی ده چی هغه د هېڅا پلوي نه کوي. ژباړن له معلوماتو سره په محرم ډول چلند کوي او هغه څه چې تاسو وایاست له صلاحیت لرونکو ادارو څخه بهر له هېڅا سره نه شریکوي.

ژباړن ستاسو د غوښتنلیک په اړه په پرېکړه کې هېڅ اغېز نه لري.

که تاسو د ژباړن په خبرو نه پوهیږی یا فکر کوئ چې ژباړن بې طرفه نه دی، نو سمدستي په اړوندو ادارو ته خبر ورکړئ.

تاسو کولی شئ د خپلې شخصي مرکې لپاره د نارینه یا ښځینه ژباړن او د مرکې کارکوونکي غوښتنه وکړئ، که دا تاسو سره مرسته کوي چې په ازاد ډول خپل نظر څرګند کړئ

د هغه دلایلو پر بنسټ چې تاسو یې وړاندی کوی او د امکاناتو پر بنسټ به ستاسو غوښتنه وکتل شی.

تاسو حق لرئ چې معلومات ترلاسه کړئ او وړیا حقوقي مشوره وغواړئ.

د پناه غوښتنې د پروسې په جریان کې، تاسو کولی شئ د وړیا حقوقي مشورې غوښتنه وکړئ. په دې کې هغه حقوقي مرسته هم شامله ده چې ستاسو د غوښتنې د سپارلو په برخه کې درسره مرسته کوي.حقوقي مشوره دا معنا لري چې تاسو کولی شئ د لاندې موضوعاتو په اړه معلومات او وضاحت ترلاسه کړئ:

- ستاسو حقونه او مکلفیتونه
- ښلابښلې پروسې
- حقوقي مسائل

تاسو کولی شئ د ښرته ستنښدو له سلاکارانو څخه د معلوماتو او حقوقي مشورو غوښتنه وکړئ.

همدارنګه، تاسو کولی شئ د حقوقي مرستو له دفترونو (BJB) څخه هم حقوقي مشوره ترلاسه کړئ.

تاسو کولی شئ د ملګرو ملتونو د کډوالو له اداري (UNHCR)یا نورو سازمانونو سره اړیکه ونیسئ.

تاسو کولی شئ د پناه غوښتنې د پروسې په هر پراو کې له UNHCRیا د هغې له همکارو سازمانونو سره اړیکه ونیسئ او ورسره خبرې وکړئ.

UNHCR د نړیوال خوندیتوب غوښتونکو او کډوالو د ګټو او حقونو ساتنه کوي. UNHCR او د هغې همکار سازمانونه غوښتونکو ته معلومات او مرسته هم برابروي.

د UNHCR د اړیکو معلومات او د پناه غوښتنې د پروسې اړوند معلومات تاسو د UNHCRپه وېبپاڼه کې موندلی شئ: https://help.unhcr.org/

تاسو همدارنګه کولی شئ له نورو سازمانونو سره اړیکه ونیسئ چې غوښتونکو ته حقوقي مشوره یا نورې مرستې برابروي.

تاسو کولی شئ له یو حقوقي سلاکار (وکیل) سره مشوره وکړئ.

یو حقوقي سلاکار هغه څوک دی چې تاسو ته شخصي حقوقي مرسته برابروي یا ستاسو د ادارو سره د اړیکو پر مهال استازیتوب کوي. تاسو حق لرئ چې د پناه غوښتنې د پروسې په هر پراو کې له یو حقوقي سلاکار سره مشوره وکړئ.

د خپل اوسني حقوقي سلاکار معلومات ادارو ته ورکړئ، ترڅو هغوی وکولای شي هغه ستاسو د غوښتنې له حالت څخه خبر وساتي.

ستاسو مکلفیتونه څه دي؟

د دې هېواد قوانین مراعت کړئ.

په هغه هېواد کې پاتې شئ چې تاسو پکې د نړیوال خوندیتوب غوښتنه کړې ده.

هڅه مه کوئ چې بل اروپایی هیواد ته +EUنه ولاړ شئ.
هغه ټاکلی ځای مه پرېږدئ چې ادارو درته د پاتې کېدو لپاره ټاکلی وي.
تاسو یوازې هغه وخت بل اروپایی هیواد +EUنه سفر کولای شئ چې د ادارو اجازه مو ترلاسه کړې وي.

ډاډ ترلاسه کړئ چې اداري کولی شي له تاسو سره اړیکه ونیسي او دا چې تاسو خپلې ټاکل شوې لیدنې او ژمنې ترسره کوئ.

کله چې اداري له تاسو وغواړي، تاسو باید په شخصي ډول ټولو ټاکل شوو لیدنو ته حاضر شئ. تاسو باید پر وخت هلته حاضر اوسئ.که د یوې جدي ستونزې له امله ونه شئ کولای په کومه لیدنه کې ګډون وکړئ، نو باید سمدستي اداري خبرې کړئ او دلیل یې تشریح کړئ.

له ادارو سره بشپړه همکاري وکړئ.

کله چې له تاسو وغوښتل شي، باید لاندې کارونه ترسره کړئ:

- خپل شخصي معلومات وړاندې کړئ.

- خپل د هویت اسناد وړاندې کړئ. که دا اسناد نه لرئ، نو دلیل پې تشریح کړئ.



- اجازه ورکړئ چې ستاسو د ګوتو نښې او ستاسو عکس واخیستل شي.

- خپله غوښتنه په ټاکلې نېټه او ټاکلي ځای کې وسپارئ.
- ډاډ ترلاسه کړئ چې تاسو د DVZ په مرکه او شخصي مرکې کې حاضر یاست او د مرکې پر مهال پوښتنو ته ځوابونه ورکړئ.

- همکاري وکړئ که دولتي اداري وغواړي تاسو تلاشي کړي یا ستاسو سامانونه وپلټي. دا کار یوازې هغه وخت ترسره کېږي چې اړین او قانوناً موجه وي. اداره به د تلاشي او پلټنې دلیلونه تاسو ته تشریح کړي.تلاشي او پلټنه به د هماغه جنس کس له خوا ترسره کېږي او په داسې ډول به وي چې ستاسو عزت او کرامت ته زیان ونه رسېږي.

رښتيا وواياست

هغه څه چې تاسو واياست، ستاسو د غوښتنې د باور وړتيا لپاره ډېر مهم دي. له همدې امله، تاسو بايد رښتينی اوسئ او د خپل هويت، کورنۍ، د اصلي هېواد، د هغه دليلونو چې ولې مو خپل هېواد پرېښی او ولې نه غواړئ بېرته هلته ستانه شئ، په اړه بشپړ او سم معلومات ورکړئ. کېدای شي تاسو هر څه په ياد ونه لرئ، نو ممکن ټولې پوښتنې ځواب نه کړئ. په دې حالت کې ځوابونه مه جوړوئ، بلکې ووايئ چې تاسو يې په ياد نه لرئ.

د اړيکو سم معلومات ورکړئ او د اړيکې لپاره د لاسرسی وړ اوسئ.

اداري بايد وکولای شي ستاسو د نړيوال خوندیتوب د غوښتنې په اړه له تاسو سره اړيکه ونيسي. که ستاسو پته، برېښنالیک يا د ټيليفون شمېره بدله شي، نو سمدستي اداري خبر کړئ.

خپل غوښتنې د ملاتړ لپاره ټول معلومات او اسناد د بهرنیانو چارو ادارې ته وسپارئ.

که تاسو د هویت اسناد لرئ، نو باید ژر تر ژره یې وړاندې کړئ.

تاسو باید نور ټول معلومات او اسناد هم وړاندې کړئ چې کولی شي ادارو سره ستاسو د غوښتنې په ارزونه یا د دې په ټاکلو کې مرسته وکړي چې کوم هېواد ستاسو د غوښتنې د ارزونې مسؤل دی. په دې اسنادو کې د بېلګې په توګه لاندې اسناد شاملېدای شي: پاسپورټ، د نکاح خط سند، د کورنۍ کتابچه، نظامي پېژندپاڼه، د کار ثبوت، د سیاسي ګوند د غړیتوب کارت، تصدیق‌لیکونه، د محکمې او پولیسو راپورونه، عکسونه، او طبي یا رواني اسناد.

تاسو اړتیا نه لرئ هغه اسناد وړاندې کړئ چې یوازې ستاسو د هېواد په اړه عمومي معلومات لري. د پناه غوښتنې اداري ستاسو د هېواد له وضعیت څخه خبر دي.

د خپلې غوښتنې د سپارلو پر مهال باید ټول معلومات او اسناد ژر تر ژره وړاندې کړئ. که اسناد مو سمدستي په اختیار کې نه وي، نو کله چې یې ترلاسه کړئ، باید هغه CGVS ته وسپارئ، که بلجیم ستاسو د نړیوال خوندیتوب د غوښتنې د ارزونې مسؤل هېواد وي.

تاسو مکلف یاست چې، تر هغه ځایه چې ممکن وي، اصلي اسناد وړاندې کړئ. تاسو باید د هویت اسناد له منځه یونه سئ یا یې وغورځوئ. همدارنګه، اړوند اسناد باید پټ نه کړئ. که جعلي اسناد لرئ، باید هغه هم وړاندې کړئ او په ښکاره ډول ووایاست چې دا جعلي اسناد دي.

که ممکنه وي او کوم خطر ونه لري، له خپلو ملګرو یا د کورنۍ له غړو وغواړئ چې اسناد درولېږي.

که تاسو خپل مکلفیتونه ترسره نه کړئ څه پېښېږي؟

ستاسو د پناه غوښتنې پروسه درول کېږي.

که تاسو له لاندې کارونو څخه انکار وکړئ دا به پېښېږي:

- کله چې غوښتنه ترې وشي، معلومات ورنه کړئ
- اجازه ورنه کړئ چې ستاسو د ګوتو نښې یا عکس واخیستل شي
- خپله پته ور نه کړئ
- د شخصي مرکې پر مهال پوښتنو ته ځواب ورنه کړئ

همدارنګه دا به هغه وخت هم پېښ شي که تاسو:

- پرته له موجه دلیل څخه خپله غوښتنه په ټاکلې موده کې ونه سپارئ
- پرته له موجه دلیل څخه شخصي مرکې ته حاضر نه شئ
- کله چې اداري وغواړي، ځان ور ونه پېژنئ
- په هغه ځای کې پاتې نه شئ چې پاتې کېدل پکې درباندې لازمي دي
- ادارو ته د اړیکې لپاره موجود نه اوسئ
- هېواد پرېږدئ

ستاسو غوښتنه به بیا **د بېرته اخیستل شوې** یا **رد شوې غوښتنې** په توګه وګڼل شي. معنا دا چې تاسو کولی شئ د نړیوال خوندیتوب د غوښتونکي حالت او له هغه سره تړلي ټول حقونه له لاسه ورکړئ.

تاسو همدارنګه کولی شئ د پناه غوښتنې د پروسې په هر پراو کې خپله غوښتنه بېرته واخلئ، د بېلګې په توګه که مو پرېکړه کړې وي چې خپل هېواد ته بېرته ستانه شئ. په دې حالت کې به تاسو د نړیوال خوندیتوب د غوښتونکي حالت له لاسه ورکړئ.

د استوګنې د مرستو ځینې ډولونه او ځینې خدمتونه محدود یا بندېدلی شي.

په ځینو حالتونو کې، Fedasil کولی شي پرېکړه وکړي چې د استوګنې د مرستو ځینې ډولونه یا ځینې د استوګنې خدمتونه محدود یا بند کړي. Fedasil به ستاسو د وضعیت له ارزونې وروسته تاسو په لیکلې بڼه د داسې پرېکړې څخه خبر کړي.د دې په اړه نور معلومات تاسو په جلا بروشور کې موندلای شئ.

ستاسو د غوښتنې د ارزونې لپاره منفي پایلې رامنځته کېدای شي.

که تاسو د خپل هویت یا خپلې غوښتنې په اړه غلط یا ګمراه کوونکي معلومات ورکړئ، یا اسناد له منځه یوسئ او یا پې جعلي جوړ کړئ، نو دا ستاسو د غوښتنې لپاره منفي پایلې لرلای شي. ستاسو غوښتنه رد کیدلای شي او ممکن تاسو د نړیوال خوندیتوب شرایط پوره نه کړئ.

نړیوال خوندیتوب ببرته اخیستل کېدای هم شي که اداري وروسته وموې چې تاسو د پناه غوښتنې د پروسې پر مهال رښتیا نه دي ویلي.

تاسو سره به ځانګړې مرسته وشی که تاسو ورته اړتیا ولری.

که تاسو ځانګړې مرستې ته اړتیا لرئ، باید ژر تر ژره اداري پرې خبرې کړئ. دا اړتیاوې د بېلابېلو حالتونو له امله رامنځته کېدای شي، لکه امیندواری، ناروغی، یا د رواني، فزیکي او جنسي تاوتریخوالي تجربې.اداري به ستاسو وضعیت وارزوي او کولی شي اضافي مرسته برابره کړي ترڅو ستاسو ګډون د پناه غوښتنې په پروسه کې اسانه شي. د بېلګې په توګه، هغوی کولی شي ستاسو دوسیې ته ځانګړی کارکوونکی وټاکي یا د پناه غوښتنې د پروسې موده بدله کړي.

که تاسو وغواړئ خپل هېواد ته بېرته ستانه شئ؟

تاسو کولی شئ د پناه غوښتنې د پروسې په هر پراو کې پرېکړه وکړئ چې په خپله خوښه بېرته ستانه شئ:

- خپل هېواد ته
- یا هغه هېواد چې پرې راغلی یې یا بل درېیم هېواد ته چې تاسو پکې د اوسېدو حق لرئ

که تاسو په خپله خوښه د بېرته ستنېدو پرېکړه وکړئ، نو ستاسو د پناه غوښتنې پروسه به ودرول شي او تاسو به نور په بلجیم کې د پاتې کېدو حق ونه لرئ.

که غواړئ خپل د نړیوال خوندیتوب غوښتنه د پروسې له پای ته رسېدو مخکې بنده کړئ، نو باید یوه فورمه ډکه کړئ چې د CGVS په ویبپاڼه کې یې موندلای شئ.

www.cgrs.be/sites/default/files/formulieren/declaration_renunciation_of_the_asylum_application.pdf

که تاسو غواړئ په خپله خوښه بېرته ستانه شئ، نو له Fedasil سره د دې ویبپاڼې له لارې اړیکه ونیسئ:

https://www.vrijwilligeterugkeer.be/en-gb

تاسو کولی شئ د خوندي او قانوني بېرته ستنېدو لپاره لارښوونه او مرسته ترلاسه کړئ.د رضاکارانه بېرته ستنېدو په اړه معلومات د DVZ د ICAM سلاکارانو څخه هم ترلاسه کولای شئ.

د معلوماتو د ترلاسه کولو تأیید

یو کارکوونکی به له تاسو څخه وغواړي چې د دې معلوماتو د ترلاسه کولو تأیید وکړئ. که تاسو په کوم څه نه پوهېږئ یا لا هم کوم شک یا پوښتنه لرئ، نو هر وخت کولی شئ پوښتنه وکړئ.

د نړیوال خوندیتوب اداړې

د کډوالو او بې‌تابعیته کسانو عمومي کمېساری (CGVS)

39Ernest Blerotstraat

BRUSSEL 1070

02 205 51 11 تیلفون

وېبپاڼه : www.cgvs.be/nl/contactinfo

- د نړیوال خوندیتوب د غوښتنو ارزونه
- پېژندل شوو کډوالو او بې‌تابعیته کسانو ته د تصدیق‌لیکونو او د مدني حالت د اسنادو ورکول

د بهرنیانو چارو اداره (DVZ)

44Pachecolaan

BRUSSEL 1000

02 488 80 00تیلفون

بریښنالیک: infodesk@ibz.fgov.be

وېبپاڼه : https://dofi.ibz.be/nl/contact

- *په بلجیم کې د بهرنیانو لپاره خاوري ته داخلېدل، استوګنه، مېشت کېدل او ایستل*
- *نړیوال خوندیتوب: د نړیوال خوندیتوب د غوښتنې ثبتول او د هغه غړي هېواد ټاکل چې د غوښتنې د ارزونې مسؤلیت لري.*

د نړیوال خوندیتوب اداړې

د بهرنیانو د شخړو شورا (RvV)

Laurentide Gaucheretstraat 92-94

1030 BRUSSEL

T 02 791 60 00

F 02 791 62 26

بریښنا لیک info.rvv-cce@ibz.fgov.be

ویب پاڼه www.rvv-cce.be

- د بهرنیانو چارو اداړې او د کډوالو او بې تابعیته کسانو د عمومي کمېسار د پرېکړو پر ضد استینافونه

Fedasil

Kartuizersstraat 21

1000 BRUSSEL

T 02 213 44 11

F 02 213 44 22

بریښنا لیک info@fedasil.be

ویب پاڼه www.fedasil.be

- د نړیوالې ساتنې غوښتونکو ته استوګنځای او لارښوونه
- د رضاکارانه بېرته ستنېدو همغږي او ملاتړ

Aanmeldcentrum Fedasil

Passendalestraat 2

1000 BRUSSEL

T 02 793 82 40

Commissioner General for Refugees and Stateless Persons

دا بروشور يوازې د معلوماتو لپاره دی او په خپله کوم حقونه يا مکلفيتونه نه رامنځته کوي.

اصلي متن د اروپايي اتحاديې د پناه غوښتنې اداري (EUAA) له خوا چمتو شوی، او EUAA يوازې د اروپايي اتحاديې غړو هېوادونو ته اجازه ورکوي چې دا بروشور بيا خپور او تعديل کړي.

EUAAد هغو معلوماتو د دقت، محتوا، بشپړتيا، قانونيت يا اعتبار په اړه چې د اروپايي اتحاديې غړو هېوادونو يا نورو مسؤلو دريمو خواوو له خوا په دې بروشور کې ځای پر ځای شوي، هېڅ ډول مسؤليت نه مني.

EUAAيا هغه کسان چې د EUAAپه استازيتوب عمل کوي، د دې بروشور د معلوماتو د هر ډول استعمال په وړاندې مسؤل نه دي.

© د اروپايي اتحاديې د پناه غوښتنې اداره ((EUAA، 2026

ISBN 000-00-00-00000-0
doi: 00.0000/0000000
AA-00-00-000-NL-C

Publications Office of the European Union